دعوت
مجله علمی تحقیقی
سال پنجم، بهار و تابستان ۱۴۰۳هـ ش
شماره مسلسل ۱۰
REG code: RCTD - PNJR- 00+12-22
ACRED code: RCTD- PNJA+00-4-23

# اسلام او د معاصرې ښځې لومړيتوبونه

**نچوړ**

دا څېړنه چې تحليلي-توصيفي کړنلاره باندې پلې شوې، په خورا مهمه موضوع راڅرخي چې د ننۍ ښځې لومړيتوبونه بيانوي او دا ثابتوي چې ښځې د اسلام په رڼا کې خپل واک انسانان دي، د يو کامل بشر په توګه د الله تعالی خطاب ورته متوجه دی، د دوی د ښو او بدو اعمالو اغيز د دوی په دنيا او آخرت کې يواځې په دوی پورې اړه لري، په ښو بې ښه او په بدو بې بده پايله مرتبيږي. دا څېړنه د شرعي او طبيعي دلايلو په رڼا کې دا روښانه کوي چې ښځې ځينې ځانګړتياوې لري چې دوی له سړويو څخه ګوښې کوي، ښځې اولادونه راوړي، هغه روزي، ښځې په فطري لحاظ سړيو ته په پام کمزوری بدن لري، ځينې سخت کارونه تر سره کولی نه شي او د دې ځانګړتياوو غوښتنه دا ده چې دوی ته دې په ځينو برخو کې ځانګړي امتيازات ورکړی شي؛ له همدې کبله د دوی نفقه په سړيو واجب ده، او په شاقه کارونو مکلفې نه دي. همدا راز په دې څېړنه کې په ګوته شوې چې د نن زمانې او موجود چاپيريال د غوښتنې پر بنسټ ښځې عمده لومړيتوبونه لري چې له هغو څخه د علم حاصلول، د الله تعالی عبادت، د کورنۍ حقوق په ځای کول، د ټولنې په انکشاف کې مناسبه ونډه اخيستل، دعوت، د کورنۍ تحکيم او پياوړتيا او خپل عفت او پاکۍ ته پاملرنه کول دي، که دې لومړيتوبونو ته ښځې پام وکړي نو د الله تعالی په نزد به بې خپل مسؤوليت ادا کړی وي او ټولنې ته به د خير او ګټې لامل جوړې شي. همداراز دا واضح شوې چې سړي هم د ښځو د ټولنيز شريک په توګه د ښځو په مقابل کې مسؤوليتونه لري چې ځينې بې د کورنۍ په چاپيريال کې دي چې د ښځو درناوی به کوي، په کارونو کې به مرسته ورسره کوي او نفقه به بې ورکوي، او ځينې بې د له کور څخه باندې، د ټولې ټولنې په سطحه دي، چې په لارو او کوڅو کې به بې نه تنګوي او درناوی به بې کوي. که دا دوه اړخيز مکلفيتونه رعايت شي؛ ټولنه به دخوندي توب احساس وکړي، عدالت به تامين شي او نيکمرغي به عامه شي.

کليدي ټکي: اسلام، معاصره ښځه، لومړيتوبونه.

دکتر شير علي ظريفي
د دعوت پوهنتون د ماستری برنامې
د فقه او قانون څانګې استاد
zarifi60@yahoo.com

دریافت مقاله: ۱۴۰۳/۰٤/۰۷
پذیرش مقاله: ۱۴۰۳/۰٦/۱۰

www.dawat.edu.af
Journal@dawat.edu.af

**Abstract**

This study, utilizing an analytical-descriptive approach, examines the significant topic of contemporary women's priorities from an Islamic perspective. It seeks to affirm that, in Islam, women are empowered individuals fully addressed by Allah as complete beings. Their actions whether virtuous or otherwise carry consequences solely for themselves, with positive actions yielding favourable outcomes and negative actions resulting in adverse consequences, both in this world and the hereafter. This research employs both religious and natural reasoning to clarify that women possess certain unique qualities that distinguish them from men. These include the role of childbearing and nurturing, along with a generally less robust physical constitution, making some strenuous tasks less suitable for them. Such characteristics justify certain privileges, such as the responsibility of men to provide financial support and the exemption of women from physically demanding labour.

The study also identifies the primary priorities for women in today's world and societal context, which include the pursuit of knowledge, worship of Allah, fulfilment of family obligations, meaningful participation in societal development, promotion of faith, strengthening of family cohesion, and preservation of personal dignity and chastity. By focusing on these priorities, women can fulfil their responsibilities in the eyes of Allah, becoming sources of goodness and benefit within society. Furthermore, the study emphasizes that men, as women's social partners, bear responsibilities toward them. Within the family, these responsibilities include respecting women, assisting them with tasks, and providing financial support. Beyond the home, men are called to maintain respectful behaviour toward women in public settings. Observing these mutual responsibilities fosters societal security, upholds justice, and promotes collective well-being.

**Keywords**: Islam, modern women, priorities.

# Dawat
## Academic Journal

Fifth Year, Issue 1
(Spring & Summar 2024)

Volume 10

Received: 2024-6-27
Accepted: 2024-8-31

www.dawat.edu.af
Journal@dawat.edu.af

**سريزه**

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين وعلى آله وصحبه ومن اهتدى بهديه الى يوم الدين، وبعد اسلام د الله تعالى له لوري راستول شوی د ژوند نظام دی چې د بشر د دواړو جهانونو د سعادت تضمين کوي، که موږ دا دين په سمه توګه وپېژنو او په هر اړخيزه توګه يې عملي کړو، هم به په دنيا کې نيکمرغه يو او هم په آخرت کي او که - خدای مکړه - د دې مبارک دين له لارښوونو اعراض وکړو؛ نو د دنيا او آخرت دواړو په بد مرغی به اخته کيږو.

د دې دعوا دليلونه په اجمالي توګه په لاندې ډول دي:

الله تعالى فرمايي: ﴿إِنَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ يَهْدِى لِلَّتِى هِىَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا﴾ [الإِسْرَاء : ٩]

**ژباړه:** بې شکه دا قرآن هغې لارې ته لارښوونه کوي چې تر نورو سمه ده.

همدا راز فرمايي: ﴿ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِى وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا﴾ [المَائِـدَة: ٣]

**ژباړه:** نن ورځ مې ستاسې دين (د ژوند لارښود نظام) درته بشپړ کړ او خپل نعمت مې در باندې پوره کړ او اسلام مې د دين په توګه درته خوښ کړ.

نو دين نعمت او لورينه ده، انتقام او ځورونه نه ده، په دنيا کې هم د نېکمرغۍ لامل دی او په آخرت کې هم. دواړه جهانونه په دين ښايسته کيږي.

الله تعالى د غوره بنده ګانو د دعا په هکله فرمايي: ﴿وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ﴾ [البَقَرَة: ٢٠١]

**ژباړه:** او له دې بنده ګانو نه ځينې (غوره خلک) وايي: ای زموږ څښتنه! په دنيا کې ښکلی (ژوند) راکړه او په آخرت کې ښکلی (ژوند) راکړه او د اور له عذاب څخه مو وساته.

هر هغه نارينه او ښځينه چې د دين لاره بې سمه و پيژنده او د هغې پيروي بې وکړه په دنيا او آخرت کې به بريالی وي، الله تعالی فرمايي: ﴿مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ﴾ [النَّحل: ۹۷]

**ژباړه:** چا چې نيک عمل وکړ، که نارينه وي که ښځينه او دی مؤمن هم وي، نو هرو مرو به (په دې دنيا) ښکلی خوندور ژوند او (په آخرت کې) د دوی د ښکلو اعمالو په بدل کې اجر ورکړو. (ابن کثير ۱٤۲۰هـ - ۱۹۹۹ م ٤ ټوک ٦۰۱مخ ) [۱]

او که چا مخ ورځخه واړاوه په دواړو جهانونو به مخ تورن او بد مرغه وي، الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِى فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ أَعْمَىٰ﴾ [طه: ۱۲٤]

**ژباړه:** او چا چې زما له پند څخه مخ واړاوو؛ نو د ده لپاره به (په دنيا کې) تنګ ژوند وي، او د قيامت په ورځ به بې ړوند راپاڅوو.[۲]

په دې کې شک نشته چې اسلامي شريعت د خلکو د دنيا او آخرت د نيکمرغۍ ضامن دی، ټولې هغه ستونځې چې اسلامي نړۍ ورسره لاس او ګريوان ده له شريعت څخه د کاږه فهم او د هغه د نه پلي کولو له کبله رامنځ ته شوې.

نو د شرعي احکامو پوهه، په هغو باندې د عمل کولو، مقدمه ده، او چې پوهه نه وي عمل ممکن نه دی.

---

۱ - ابن کثير بې په تفسير کې وايي: هذا وعد من الله تعالى لمن عمل صالحا ... بأن يحييه الله حياة طيبة في الدنيا وأن يجزيه بأحسن ما عمله في الدار الآخرة. (تفسير ابن کثير تحقيق سامي بن محمد سلامة، د دار طيبة دوهم چاپ ۱٤۲۰هـ - ۱۹۹۹ م ٤ ټوک ٦۰۱مخ.

۲ - ابن کثير بې په تفسير کې وايي: {ومن أعرض عن ذكري} أي: خالف أمري، وما أنزلته على رسولي، أعرض عنه وتناساه وأخذ من غيره هداه {فإن له معيشة ضنكا} أي: في الدنيا، فلا طمأنينة له، ولا انشراح لصدره، بل صدره ضيق حرج لضلاله، وإن تنعم ظاهره، ولبس ما شاء وأكل ما شاء، وسكن حيث شاء، فإن قلبه ما لم يخلص إلى اليقين والهدى، فهو في قلق وحيرة وشك، فلا يزال في ريبة يتردد. فهذا من ضنك المعيشة. (پخوانی مأخذ، ۵ ټوک، ۳۵۵ مخ)

ښځې چې د بشري ټولنې نیمايي برخه تشکیلوي، د اسلام له نظره د یو کامل انسان په توګه، پوره مکلفیت او مسؤولیت لري، چې له نارینه وو سره اوږه په اوږه د اسلامی شریعت احکام وپېژني او په ځان او ټولنه یې پلي کړي؛ څو خپله هم نیکمرغه شي، او د نورو په نیکمرغه کولو کې هم ونډه واخلي.

## د موضوع ارزښت

نن سبا د ښځو د حقوقو او مکلفیتونو په هکله ډېر حتا مسلمان ښځې او نارینه په افراط او تفریط کې لویدلي، ځینې غواړي ښځې په څلورو دیوالونو کې رابندې وي او د تعلیم، کار، سفر، حتا له کور څخه د باندې د عبادت کولو په حق ورته قایل نه دي، ځینې نور بیا د دې په عکس غواړي چې ښځې د غربي ټولنو په پیروۍ له احترام او وقار څخه وباسي او د متاع په توګه یې د ښایست په بازار عرضه کړي، چې د دې دواړو آندونو معالجه لازمه ده او باید د اسلام د مبارک دین هغه وسط لار چې له افراط او تفریط څخه خلاصه ده بیان شي، چې په دې مقاله کې همدا کوښښ تر سره شوی دی.

## د څېړنې میتود

په دې مقاله کې د څېړنې میتود تحلیلي توصیفی دی، له کتابتون څخه پکې ګټه اخیستل شوې، د شرعي احکامو د تثبیت له پاره د شریعت اصلي او اولي مراجعو قرآن کریم او د رسول الله سنتو ته پکې مراجعه شوې، او د قناعت او استیناس لپاره د علماوو تاییدي اقوال د هغوی له معتبرو مراجعو نه ذکر شوي.

د قرآني آیتونو د ذکر په مهال سورت او آیت په نښه شوي، او د نبوي حدیثونو د راوړلو په وخت هم د هغوی د تخریج لومړني کتابونو باندې حواله ورکړل شوې، او د مذاهبو له نظریاتو د استفادې په مهال، د هغو اصلي او معتبرو کتابونو حواله ذکر شوې ده.

**د مقالې جوړښت**

دا مقاله چې اصلي موخه ورڅخه په اسلام کې د معاصرې ښځې د لومړيتونو بيان دی، په څلورو مطلبونو کې پې سره رانغاړو: په لومړي مطلب کې د ښځې د شخصيت بشپړوالی ښيو، په دوهم مطلب کې د ښځې ځانګړتياوې معرفي کوو، په دريم مطلب کې د ښځو عمده لومړيتوبونه بيانوو او په څلورم مطلب کې د ښځو په وړاندې د سړويو عمده مسؤوليتونه په ګوته کوو.

**لومړی مطلب - ښځه بشپړ شخصيت دی**

د اسلام مبارک دين، ښځې ته د يو بشپړ شخصيت په توګه ګوري، ښځه د ژوند په ټولو چارو کې مستقل واک لري، په ايمان راوړلو، عبادت کولو، عقودو او تړونونو تر سره کولو او د دنيا او آخرت په چارو کې دوی ته ځانګړی تکليف متوجه دی، د سړويو په پيروۍ له دوی سره معامله نه کيږي. بلکه د دوی په خپلواکه باورونو او اعمالو اغيز مرتبيږي او ښه او بد اعمال يې په استقلال سره د دوی لپاره او يا د دوی په ضد حسابيږي.

الله تعالي د څلورو ښځو مثال په قرآن کې بيان کړی، چې د دوی عقيده او عمل په استقلال سره د اعتبار وړ ګرځيدلی، او په سړويو پسې د دوی سرنوشت نه دی تړل شوی.

الله تعالی فرمايي: ﴿ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱمۡرَأَتَ نُوحٖ وَٱمۡرَأَتَ لُوطٖۖ كَانَتَا تَحۡتَ عَبۡدَيۡنِ مِنۡ عِبَادِنَا صَٰلِحَيۡنِ فَخَانَتَاهُمَا فَلَمۡ يُغۡنِيَا عَنۡهُمَا مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗا وَقِيلَ ٱدۡخُلَا ٱلنَّارَ مَعَ ٱلدَّٰخِلِينَ ۝١٠ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱمۡرَأَتَ فِرۡعَوۡنَ إِذۡ قَالَتۡ رَبِّ ٱبۡنِ لِي عِندَكَ بَيۡتٗا فِي ٱلۡجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِن فِرۡعَوۡنَ وَعَمَلِهِۦ وَنَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝١١ وَمَرۡيَمَ ٱبۡنَتَ عِمۡرَٰنَ ٱلَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا فَنَفَخۡنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا وَصَدَّقَتۡ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِۦ وَكَانَتۡ مِنَ ٱلۡقَٰنِتِينَ﴾ [التَّحۡرِيم: ۱۰ - ۱۲]

**ژباړه:** الله تعالي مثال بيان کړی د کافرانو لپاره د نوح ښځه او د لوط ښځه، دوی دواړه زما له صالحو بندګانو سره وې، نو له هغو سره يې خيانت وکړ، نو هغوی دوی ته د الله تعالی په مقابل کې هيڅ ګټه ونه رسوله او ورته وويل شول: اور ته له نورو ننوتونکو سره

ننوزئ. او الله تعالی مثال بيان کړی د مؤمنانو لپاره د فرعون ښځه، هغه وخت چې وېې ويل: ای زما څښتنه! زما لپاره ستا په جنت کې کور جوړ کړه او ما ته له فرعون او د ده له عمل څخه نجات راکړه او ما له ظالم قوم څخه خلاصه کړه. او مريمه د عمران لور، چې خپل عفت يې سم وساته، نو موږ له خپل روح څخه په هغې کې پو کړل، او د خپل څښتن کلمې يې رښتيا وګڼلې او د هغه کتابونه او له عاجزي کوونکو څخه وه.

بل ځای کې الله تعالی د نارينه وو او ښځو د شخصيت د بشپړتيا او دندو د ورته والي په هکله فرمايي: ﴿إِنَّ ٱلۡمُسۡلِمِينَ وَٱلۡمُسۡلِمَٰتِ وَٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ وَٱلۡقَٰنِتِينَ وَٱلۡقَٰنِتَٰتِ وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلصَّٰدِقَٰتِ وَٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰبِرَٰتِ وَٱلۡخَٰشِعِينَ وَٱلۡخَٰشِعَٰتِ وَٱلۡمُتَصَدِّقِينَ وَٱلۡمُتَصَدِّقَٰتِ وَٱلصَّٰٓئِمِينَ وَٱلصَّٰٓئِمَٰتِ وَٱلۡحَٰفِظِينَ فُرُوجَهُمۡ وَٱلۡحَٰفِظَٰتِ وَٱلذَّٰكِرِينَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا وَٱلذَّٰكِرَٰتِ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُم مَّغۡفِرَةٗ وَأَجۡرًا عَظِيمٗا﴾ [الأَحْزَاب: ٣٥]

**ژباړه:** بې شکه مسلمان سړي او مسلمانې ښځې، مؤمنان سړي او مؤمنې ښځې، عاجزي کوونکي سړي او عاجزي کوونکې ښځې، رېښتيني سړي او رېښتينې ښځې، صبر کوونکي سړي او صبر کوونکې ښځې، د الله لپاره نرمي کوونکي سړي او نرمي کوونکې ښځې، خيرات ورکوونکي سړي او خيرات ورکوونکې ښځې، روژه نيونکي سړي او روژه نيونکې ښځې، د خپلو عورتونو ساتونکي سړي او ساتونکې ښځې او ذکر کونکي سړي او ذکر کونکې ښځې، الله تعالی د دوی لپاره بښنه او ستر اجر برابر کړی دی.

بل ځای کې الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ نَقِيرًا﴾ [النساء: ١٢٤]

**ژباړه:** هغه څوک چې نيکې چارې تر سره کوي، که نارينه وي که ښځينه، چې ايمان ولري، نو دوی به جنت ته ننوزي، او لږ ظلم به هم نه وربانديې کيږي.

ښځې د مستقل مالکیت حق لري لکه چې سړي يې لري، الله تعالى فرمايي: ﴿لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَفْرُوضًا﴾ [النساء: ۷]

**ژباړه:** د سړويو لپاره برخه ده، له هغه څه نه چې مور او پلار او خپلوانو پرې ايښې او د ښځو لپاره برخه ده، له هغه څه نه چې مور او پلار او خپلوانو پرې ايښي، که هغه لږ وي، او که ډير وي، لازم کړی شوې برخه.

**دوهم مطلب- د ښځو ځانګړتیاوې**

ښځې د ځانګړي طبيعت او خلقت پر بنسټ په دندو کې له سړويو نه امتياز لري، ښځې د خلقت له مخې، د سړويو په خلاف، اولادونه راوړي او هغوی روزي، د دوی بدن هم د سړويو په نسبت، په فطري توګه ضعيف دی، د همدې ځانګړتيا له امله اسلامي شريعت دوی ته امتيازات ورکړي، تر څو خپلې دندې په سمه توګه تر سره کړی شي.

د ښځو نفقه الله تعالى په سړويو لازمه کړې، تر څو د اولادونو پالنې او روزنې ته پوره وخت ولري.

زموږ افغاني دود او رواج هم، تر ډيره حده د ښځو طبيعت ته پام کړی، چې د کور د ننه چارې يې هغوی ته سپارلې، له کور نه د باندې چارې، زموږ په دود کې، د سړويو دنده ګڼل کيږي.

د ښځو د ميراث د لږوالي فلسفه هم همدا ده چې ښځې هيڅا ته په نفقه ورکولو موظفې نه دي. نو مصارف لږ دي او دا غير عادلانه نه ده چې عوايد يې هم لږ وي.

بل دا چې که ښځې له کور نه د باندې په کار کولو مکلفې شي، د کورنۍ کار خرابيږي، د ماشومانو د راتولیدو، لارښوونې، روزنې او پالنې محور له منځه ځي، کورنۍ سره شړيږي، هغه رواني ډاډ چې مور يې ماشومانو ته ورکوي، بل هيڅوک په هغه برلاسي نه دي.

د کورنۍ د ټینګښت په هدف، د ښځې له کور نه وتل په اسلامي شریعت کې نه دي ستایل شوي، الله تعالی فرمايي: ﴿وَقَرۡنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجۡنَ تَبَرُّجَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ ٱلۡأُولَىٰ﴾ [الأَحۡزَاب: ۳۳]

**ژباړه:** او په خپلو کورونو کې اوسئ؛ د پخواني جاهلیت په توګه د زینت ښکاره کونکې د باندې مه راوزئ.

په دې آیت کې، ښځو ته په کور کې د پاته کیدو واضحه لارښوونه شوې، خو په دې هکله استثناآت هم شته؛ ښځې د اړتیا په وخت له کور نه وتلی شي، لکه زده کړه، حج، تداوي، او د کار کولو د اړتیا په صورتونو کې.

**دریم مطلب- د ښځو لومړي توبونه**

ښځې د یو انسان په توګه د الله تعالی مکرم مخلوق دی، چې د نن زمانې په سیاق او سباق کې ځانګړي لومړیتوبونه لري، که په هغه وپوهیږي او په خپل ژوند کې یې رعایت کړي، دنیا او اخرت به یې ښایسته شي، ځینو مهمو لومړیتوبونو ته به یې په لاندې توګه اشاره کوو:

**لومړي - علم**

علم د باور او عمل مقدمه ده، د اسلام مبارک دین له عقیدې او عمل څخه عبارت دی او په دې مبارک دین باندې نارینه او ښځینه دواړه مکلف دي، نو تر هغو پورې چې یو انسان علم ونلري، نه یې عقیده سمیږي او نه د اسلام په احکامو عمل کولی شي.

علم یوه برخه عیني فرض دی، بله برخه یې کفايي فرض دی، هغه چارې چې تر سره کول یې عیني فرض دي، علم یې هم عیني فرض دی، لکه سالمه عقیده، لمونځ، روژه، زکات او نور هغه فرایض چې هر مسلمان یې په کولو مکلف دی.کفايي فرایض ټولې هغه چارې دي چې د یوې ټولنې اړتیاوې پوره کوي او ټولنه د هغو چارو له تر سره کولو پرته، نیمګړې وي. لکه تعلیم، صحت، امنیت، اقتصادي پراختیا او د ځمکې اعمار.

اوسنۍ ښځې، په ځانګړې توګه زمونږ په افغاني ټولنه کې - چې په لسګونو کلونه جګړې ځپلې - شدیده اړتیا لري چې زده کړې ته پاملرنه وکړي.

الله تعالی فرمایي: ﴿فَٱعْلَمْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ وَٱسْتَغْفِرْ لِذَنۢبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ﴾ [مُحَمَّد: ۱۷ - ۱۹]

**ژباړه:** نو پوه شه چې نشته لایق د بنده ګۍ مګر یواځې الله دی، او د خپلې ګناه او مؤمنو سړویو او مؤمنو ښځو لپاره بښنه وغواړه.

د قرآن د پورتني حکم په بنسټ، علم له عقیدې او عمل نه مخکې ده، ځکه چې علم نه وي عقیده به په څه شي راشي او عمل به څنګه تر سره شي؟ دا دواړه علم پورې تړلي دي.

بل ځای کې الله تعالی د پوهانو په ستاینه کې د انکاري استفهام په شکل کې فرمایي: ﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ﴾ [الزُّمَر: ۹]

**ژباړه:** ووایه: آیا پوهان او ناپوهان سره برابر دي؟ معنا دا چې هیڅکله سره برابر نه دي.

د اسلام تر ټولو لومړنی حکم چې په قرآن کې رانازل شوی د لیک لوست په هکله دی، الله تعالي فرمایي: ﴿ٱقْرَأْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلَّذِى خَلَقَ ۝١ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِنْ عَلَقٍ ۝٢ ٱقْرَأْ وَرَبُّكَ ٱلْأَكْرَمُ ۝٣ ٱلَّذِى عَلَّمَ بِٱلْقَلَمِ ۝٤ عَلَّمَ ٱلْإِنسَٰنَ مَا لَمْ يَعْلَمْ﴾ [العَلَق: ۱ - ۵]

**ژباړه:** ولوله ستا د هغه څښتن په نوم چې پیدایښت یې وکړ، انسان یې د وینې له ټوټې نه پیدا کړ، ولوله او ستا څښتن عزتمند دی، هغه چې د قلم پوهه یې ورکړې، انسان ته یې هغه څه وربښودلي، چې ورباندې نه پوهیده.

انسان عام دی ښځې او سړي دواړو ته شامل دی. نو د الله تعالی منت او احسان په دواړو دی چې د قلم او کتابت علم یې ورکړی. متأسفانه ځینې خلک فکر کوي، چې په

اسلام کې ښځو ته د کتابت اجازه نشته، دا بې اصله نظر دی، په شرعي صحيح نص او مصدر استناد نه لري.

امام احمد په خپل مسند کې له الشفاء بنت عبد الله څخه روايت کړي: چې زه له حفصې د عمر لور د رسول الله له بي بي سره ناسته وم، رسول الله -صلی الله عليه وسلم - راباندې راننووت، نو ما ته یې وفرمايل: "**ألا تعلمين هذه رقية النملة كما علمتيها الكتابة؟** (ابن حنبل، ۱٤۲۱هـ ق، د حديث شميره: ۲۷۰۹۵، ابو داود، ۱٤۳۰هـ ق، د حديث شميره: ۳۸۸۷ او الطحاوي، ۱٤۱٤ هـ ق، د حديث شميره: ۷۱۸۳)

**ژباړه:** دې ته د نمله دم (۱) ولې نه ورښيې لکه څنګه دې چې ليکنه وروښودله؟

نو د رسول الله -صلی الله عليه وسلم - کور د ښځو د سواد زده کړې ځای وو، د هغه بي بي د سواد زده کړه پکې کوله.

**دوهم - د الله تعالی بندګي**

او دا هغه هدف دی چې الله تعالی انسان د هغه د پوره کولو لپاره پيدا کړی، الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ (الذاريات: ٥٦)

**ژباړه:** او ما پيريان او انسانان يوازې زما د عبادت لپازه پيدا کړي دي.

ابن تيميه رحمه الله د عبادت ښکلی تعريف کړی، فرمايي: عبادت د ټولو هغو اقوالو او اعمالو نوم دی چې الله يې خوښوي، او ورباندې راضي کيږي، که هغه ظاهر وي او که باطن. (ابن تيمية، العبودية، بی‌تا: ٤٤)

نو د ښځو عبادت په دوه ډوله ويشلی شو:

لومړی- عبادت په عامه معنا، چې د ښځو ټولو چارو ته ورشامليږي، ټولې هغه چارې چې ښځې يې د شرعي احکامو له رعايت کولو سره سره، سر ته رسوي، عبادت ګڼل کيږي، چې د اولادونو پالنه او روزنه هم پکې شامله ده. خو په دې شرط چې د ښځو نيت پکې سم

[1] - «نمله» جلدي زخمونه دي چې د بدن په اړخونو او نور پوستکي کې راوزي، دم کيږي او د الله په اذن ورکيږي، (نخب الأفكار في تنقيح مباني الأخبار في شرح معاني الآثار: ١٤ ټوک ١٩٣ مخ).

وي، او له الله سره بې حساب کړي، الله تعالی فرمايي: ﴿ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴾ (الأنعام: ١٦٢)

**ژباړه:** ووايه: بيشکه زما لمونځ، عبادت، ژوند او مرګ ټول د الله لپاره دی، چې د ټولو مخلوقاتو څښتن دی.

دوهم - عبادت په خاصه معنا، لکه لمونځ روژه, ذکر، د قرآن لوستل، دعاء، مالی صدقات، حج، عمره او نور ځانګړي عبادتونه. دې ډول عبادتونو ته بايد ښځې خاصه پاملرنه وکړي، او بايد لومړي توب ورکړی شي، لکه سرړو ته چې همداسې کول پکار دي.

ښځې که په هر ډول ظروفو کې وي، بايد چې خپل فرضي عبادتونه په سمه توګه تر سره کړي، که د کور کارونه هر څومره زيات وي، مسلمانې ښځې بايد خپل فرضي لمونځونه په خپل وخت تر سره کړي، همدا ډول ښځو ته ښايي چې د شپې، هغه مهال چې ارامه ارامي وي، له خوب نه راپاڅيږي، او له الله تعالی سره راز او نياز وکړي، مسلمانه کورنی بايد د قرآن په لوستلو معموره وي، د مسلمان په کور کې بايد د الله تعالی ذکر شتون ولري، څومره غوره ده چې ښځې د الله تعالی ذکر ته په ۲۴ ساعته کې يو ځانګړی وخت وټاکي، قرآن پکې تلاوت کړي، او تسبيحات پکې ووايي.

کور به له هر ډول مادي او معنوي برکتونو مالامال وي.

د لوړو همتونو خاوندانې هرومرو د نفلي عبادتونو لپاره ځان ته نصاب ټاکي، د ورځې او شپې په مختلفو وختونو کې په منظمه او دوامداره توګه نفلي لمونځونه کوي.

**دريم - د کورنی حقوق په ځای کول**

لکه مخکې چې ياده شوه، ښځې د کور سرپرستې دې، د کور مملکت د دوی په لاس دی، د اولادونو پالل او روزل، د هغوی د بدن مادي او روحي اړتياوې پوره کول، خوراک، پوښاک، تعليم او تربيه ټول تر زياتې کچې پورې د ښځو د سرپرستی ساحې دي.

د کورنویو تر ټولو غټه سرمایه، چې د دوی زیات وخت وربانديې مصرف شوی، هغه اولادونه دي او اولادونه د ښځو په مستقیمه سرپرستۍ کې لوییږي، نو که هغوی ته په سمه توګه پاملرنه وکړي، د ټولې کورنۍ سرمایه به یې به سمه توګه ساتلې او پاللې وي.

همدا ډول ښځه د خاوند ستره تکیه ګاه وي، سړي، د ورځې په اوږدو کې مختلف ډوله سختویو سره مخ کیږي، تر څو د کورنویو اړتیاوې پوره کړي، که کور ته د راتګ په مهال، ښځې د هغوی خیال وساتي، د خوښولو هڅه یې وکړي؛ نو له یو لوري به یې خپل د ژوند ملګرې راضي کړې وي، چې هغه به نور هم قرباني ته چمتو شي، او له بل لوري به یې الله تعالی راضي کړی وي، ځکه د خاوند به راضي کولو سره الله هم راضي کیږي.

پاته دې نه وي، لکه څنګه چې ښځه د خاوند او ماشومانو په هکله دنده لري، همداسې سړي او ماشومان د ښځې په هکه مسؤولیت لري، مینه به ورسره کوي، درناوی به یې کوي، او همیشه به یې خدمت ته چمتو وي. الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: ﴿وَلَهُنَّ مِثۡلُ ٱلَّذِی عَلَیۡهِنَّ﴾ [البَقَرَةِ: ٢٢٨]

**ژباړه:** او د دوی (ښځو) لپاره په مثل د هغو حقوقو دي کوم چې په دوی دي.

**څلورم - د ټولنې په انکشاف کې مناسبه ونډه اخیستل**

ښځې هم د سړو په توګه مسؤولیت لري هغه چارې چې کفایي واجبات ګڼل کیږي، او تر سره کول یې د اسلامي ټولنې مسؤولیت دی، په هغو کې مناسبه ونډه واخلي.

د رسول الله -صلی الله علیه وسلم - په زمانه کې ښځو د ټولنې په چارو کې پوره ونډه اخیستله، په مسجد کې به یې لمونځ کولو، په جهاد کې یې شرکت کولو، له خپلو خاوندانو سره په سفر او حضر کې د هغوی په چارو کې شریکې او مرستندویه وې.

مسلم په خپل صحیح کې او نورو محدثینو له حضرت جابر - رضي الله عنه - څخه روایت کړی، چې هغه وایي: زما خاله طلاقه کړی شوه، نو ویې غوښتل، چې ووزې او خپلې خرماوې راوشکوي، یوو سړي له وتلو نه منعه کړه، نو رسول الله -صلی الله علیه وسلم-

ته ورغله، هغه مبارک ورته وفرمایل: «**بَلَى فَجُدِّي نَخْلَكِ، فَإِنَّكِ عَسَى أَنْ تَصَدَّقِي، أَوْ تَفْعَلِي مَعْرُوفًا**» (مسلم، د ت، د حدیث شمیره: ۱۴۸۳)

**ژباړه:** هو ووزه، خپلې خرماوې دې راوشکوه، کیدای شي له هغو نه صدقه ورکړې او یا بل د خیر کار وکړې.

امام بخاري - رحمه الله - له اسماء بنت ابي بکر - رضي الله عنهما - څخه روایت کړي، چې دا وايي: «کنت أنقل النوى من أرض الزبير التي أقطعه رسول الله صلى الله عليه وسلم على رأسي وهي مني على ثلثي فرسخ» (البخاري، ۱۴۲۲هـ ق، د حدیث شمیره: ۳۱۵۱) د زبیر له ځمکې نه به مې د خرماوو خستې په خپل سر نقلولې، او دا ځمکه زما له کوره د یو فرسخ، دوه ثلثه لرې پرته وه، یو فرسخ ۵۴۰۰ متره کیږي.

ډېرې داسې چارې شته چې سرته یې په سمه توګه نه شي تر سره کولی، هغه کارونه باید ښځې تر سره کړي.

ښځې باید د نجونو د تعلیم په برخه کې فعاله ونډه واخلي؛ ځکه ښځې له سړويو نه په دې ډګر کې زیاتې اغیزناکې دي؛ نجونه په خورا طبیعی او آسانه توګه کولی شي، له ښځو استادانو نه څه زده کړي، خو له سړويو سره هومره خپلې ستونزې نه شي شریکولای.

همدا ډول د ښځو د طبابت په برخه کې ښځې باید فعاله ونډه ولري، مریضانې ښځې، ښځو ډاکټرانو ته ورځي، په ځانګړې توګه په نسائي امراضو کې سړويو ډاکټرانو ته یوازې د ضرورت له کبله ورتلای شي، چې ښځې ډاکټرانې شتون ونه لري.

همدا ډول ښځې په صنعت، تجارت او زراعت کې، د خاصو شروطو او ظروفو په نظر کې نیولو سره د ټولنې د مادي اړتیاوو د پوره کولو په هکله اغیزمن کارونه تر سره کولی شي.

په اسلامي ټولنو کې باید د ښځو د کار ظروف، د شریعت له احکامو سره سم برابر شي، او هغه شروط چې د اسلام دین لازم کړي، باید په پام کې ونیول شي، چې ځینې مهم یې په لاندې توګه بیانیږي:

الف- ښځې د مېړونو په اجازه کار کولی شي، که مېړونه يې په کور کې پاته کيدل اړين وګڼي، په ښځو يې اطاعت لازم دی.

ب- ښځې به په داسې برخو کې کار کوي چې له سړويو سره يې اختلاط کم وي، بې محرمه سفر کول ورته ناروا دي، او همداراز يې له نا محرم سره په کوټه او يا بل داسې ځای کې ځان ته کيدل حرام دي، چې هلته نور څوک نه وي.

ج- ښځې به په مناسب چاپيريال کې کار کوي، لکه د نجونو د تعليم، د ښځو د طبابت، خياطت، قالين بافي او نورو داسې مجالونو کې چې تر ډېره پورې له سړويو سره د اختلاط مخنيوی پکې وي او د دوی له فزيکي وړتياوو سره هغه کارونه مناسبت ولري.

د- ښځې به د کار په وخت د اسلام له مبارک دين سره سم د پردې او حجاب احکام رعايتوي، سړويو ته به يې له مخ او د لاسونو له پنجو پرته، نور بدن نه ښکاري، او همدا راز به تنګې او د نظر جلبوونکې جامې نه اغوندي. په حديث شريف کې راغلي: (وليخرجن تفلات) (ابن حنبل، (ابن حنبل، ۱٤۲۱هـ ق، د حديث شميره: ۹٦٤٥) او دوی دې بې زينته (خړې پړې) ووزي.

**پنځم - دعوت**

نيکويو ته دعوت او له بدويو نه منعه کول، د هر مسلمان دنده ده، که هغه نارينه وي که ښځينه، الله تعالی فرمايي: ﴿وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ (التوبة: ۷۱)

**ژباړه:** او مؤمن سړي او مؤمنې ښځې، ځينې د ځينو نورو دوستان دي، په نيکويو امر کوي، او له بدويو نه منعه کوي، لمونځونه برپا کوي، زکاتونه ورکوي او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوي، همدا خلک دي چې ژر ده چې الله به رحمت او پيرزوينه پرې وکړي، بې شکه الله برلاسی او د حکمت خاوند دی.

بل ځای کې الله تعالی فرمايي: ﴿قُلْ هَٰذِهِۦ سَبِيلِىٓ أَدْعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ ۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا۠ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِى ۖ وَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ﴾ [يُوسُف: ۱۰۸]

**ژباړه:** ووايه: دا زما لاره ده د الله لور ته بلنه کوم، له پوهې سره، زه او هغه څوک چې زما پيروان دي، او د الله پاکي بيانوم او زه له مشرکانو نه يم.

نو ښځه د اسلامي دعوت د تکليف په ټولو نصوصو کې داخله ده، د دعوت دنده لکه څرنګه چې د سړويو ده، همداسې د ښځو هم ده.

مسلمانه ښځه د خپل توان او د علم په کچه په دعوت کولو مکلفه ده، د نن زمانې مسلمانې ښځې په دې برخه کې ستر پيټی په غاړه لري، ځکه د انحراف جريانونه زيات دي، نو بايد د دعوت جريانونه هم پراخه شي.

**شپږم - د کورنی تحکيم او پياوړتيا**

د ښځو يو خورا مهم لومړيتوب چې بايد پاملرنه ورته وکړي، د کورني همغږي کول او د غړو تر منځ عادلانه د محبت او ايثار اړيکې ټينګول دي.

مور او پلار بايد د اولادونو لپاره نيکه بيلګه وي، ماشومان که وغواړي او که ونه غواړي د مور او پلار پيروي کوي، که د دوی دواړو تر منځ د محبت او قربانۍ اړيکې قايمې وي، اولادونه هم ورنه اغيز اخلي او هغه هم په نيکو خويونو عادت کيږي.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَٰجًا لِّتَسْكُنُوٓا۟ إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ﴾ [الرُّوم: ۲۱]

**ژباړه:** او د الله تعالی د قدرت له نښو څخه دا دي چې تاسو ته يې ستاسو له جنسه جوړې پيدا کړې، چې تاسو هغو سره سکون او آرام تر لاسه کړئ، او ستاسو په منځ کې يې مينه او زړه سوی پيدا کړی، بې شکه په دې کې دليلونه دي، د هغه قوم لپاره چې سم فکر کوي.

همدا راز ښځې بايد د کور د اموالو سرپرستي په سمه توګه تر سره کړي، رسول الله - صلی الله عليه وسلم - فرمايلي: «**أَلَا كُلُّكُمْ رَاعٍ، وَكُلُّكُمْ مسؤول عَنْ رَعِيَّتِهِ، فَالْأَمِيرُ الَّذِي عَلَى**

**النَّاسِ رَاعٍ، وَهُوَ مسؤول عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ، وَهُوَ مسؤول عَنْهُمْ، وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى بَيْتِ بَعْلِهَا وَوَلَدِهِ، وَهِيَ مسؤولةٌ عَنْهُمْ، وَالْعَبْدُ رَاعٍ عَلَى مَالِ سَيِّدِهِ وَهُوَ مسؤول عَنْهُ، أَلَا فَكُلُّكُمْ رَاعٍ، وَكُلُّكُمْ مسؤول عَنْ رَعِيَّتِهِ»** (مسلم، د ت، د حديث شميره: ۱۸۲۸)

**ژباړه:** خبر اوسئ: ستاسو هر يو سرپرست ياست او د خپلې سرپرستۍ په هکله به پوښتنه ورنه کيږئ، د خلکو عمومي امير سرپرست دی، او د رعيت په هکله به پوښتل کيږي، سړی د کورنۍ سرپرست دی، د هغوی په هکله به پوښتل کيږي، ښځه د ميړه د کور او اولادونو سرپرسته ده، او پوښتنه به ترې کيږي او مريې د خپل بادار د مال سرپرست دی، د هغه پوښتنه به ترې کيږي، خبر اوسئ: چې ستاسې هر يو سرپرست دی، د رعيت پوښتنه به ترې کيږي.

د رسول الله بی بي، خديجه - رضي الله تعالی عنها - د ښې ښځې غوره نمونه ده، له هغه مبارک سره يې د ده د دعوت او کور په چارو کې پوره ونډه اخيستله، د بعثت لسم کال چې وفات شوه، هغه کال ته د سيرت په کتابونو کې عام الحزن (د غم کال) ويل کيږي (ابن اسحاق، ۱۳۹۸هـ ق، ۱ټوک، ۲۴۳مخ)؛ ځکه رسول الله ـصلی الله عليه وسلم - په دې کال ستره تکيه‌ګاه له لاسه ورکړه، چې هغه د ده مبارک بی بي وه.

مسلمانه کورنۍ د ټولو غړو د ورتګ ځاله ده، خاوند او اولادونه چې له کارونو او درسونو څخه ستړي ستومانه شي، نو کور ته ګرځي او مؤمنه او هوښياره ښځه به له همدې کور څخه، په خپله مينه او ځيرکتيا، د ټولو لپاره جنت جوړوي، چې ټولو ته مادي او روحي ارامتيا وروبښي، او خدای مکړه بد اخلاقه ښځه، له کور څخه دوزخ جوړوي، چې د ټولو به بيا له هغه کور څخه کرکه او تيښته وي.

### اوم - خپل عفت او پاکي ته پاملرنه

څرنګه چې نن سبا فتنې زياتي دي، په هيواد کې مختلفی رسنۍ له ډول ډول اهدافو سره شتون لري، د انترنت په واسطه له ټولې نړۍ څخه يو کلی جوړ شوی، هر ډول معلوماتو

ته لاسرسی اسانه شوی؛ نو په ننی مسلماني ښځې لازمه ده چې د خپل پاک دین په رڼا کې خپل حیثیت او پاکی ته جدي پاملرنه وکړي.

د شک له ځایونو څخه دې ګوښه کیږي، د حجاب رعایت دې په کامله توګه سره کوي، الله تعالی فرمايي: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَـٰبِيبِهِنَّ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ۝٥٩ لَّئِن لَّمْ يَنتَهِ ٱلْمُنَـٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْمُرْجِفُونَ فِى ٱلْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَآ إِلَّا قَلِيلًا﴾ [الأَحْزَاب: ۵۹ - ۶۰]

**ژباړه:** ای نبی خپلو ښځو، لوڼو او د مؤمنانو ښځو ته ووایه چې خپل پړوني دې په ځان رانژدې کوي، دا دې ته نژدې ده چې وپېژندل شي، نو اذیت به نه ورته رسیږي، او الله ښښونکی او مهربان دی.

همدا راز به مؤمنې ښځې له سړویو سره له اختلاط نه ځان ساتي، او هغوی ته به بار بار بې ضرورته نه ګوري، الله تعالی فرمايي: ﴿وَقُل لِّلْمُؤْمِنَـٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَـٰرِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ۖ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ ۖ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ ءَابَآئِهِنَّ أَوْ ءَابَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَآئِهِنَّ أَوْ أَبْنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ أَخَوَٰتِهِنَّ أَوْ نِسَآئِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُهُنَّ أَوِ ٱلتَّـٰبِعِينَ غَيْرِ أُو۟لِى ٱلْإِرْبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ أَوِ ٱلطِّفْلِ ٱلَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا۟ عَلَىٰ عَوْرَٰتِ ٱلنِّسَآءِ ۖ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ ۚ وَتُوبُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ [النُّور: ۳۱]

**ژباړه:** ووایه مؤمنو ښځو ته چې خپلې سترګې دې ښکته واچوي، خپل د شرم ځایونه دې وساتي، خپل ښایست دې نه ښکاره کوي، مګر کوم چې ښکاره وي، خپل پړونې دې په خپلو جیبونو راوغوړوي، خپل ښایست دې نه ښکاره کوي، مګر خپلو میړونو ته، یا خپلو پلرونو ته، یا خسرونو ته، یا زامنو ته، یا د میړونو زامنو ته یا خپلو وروڼو ته، یا خپلو

وريرونو ته يا خپلو خوريونو ته، يا مسلمانو ښځو ته، يا خپلو مريونو ته، يا هغو خادمانو ته چې د ښځو شوق نه لري او يا هغو ماشومانو ته چې د ښځو په عورتونو نه پوهيږي او پښې دې په ځمکه په زوره نه وهي، چې (د پښو)، هغه پټې ګاڼې يې معلومې شي او الله ته توبه وکړئ، ټول، اې مؤمنانو کيداې شي برياليي شئ.

**ځلورم مطلب – د ښځو په مقابل کې د نارينه وو عمده مسؤوليتونه**

ښځې او نارينه د بشري ټولنې، يو له بل نه نه بېليدونکې غړي دي، که دوی يو تر بله حقوق او مکلفيتونه رعايت کړي، نو دواړه جنسه به سوکاله ژوند ولري، او که خدای مکړه سړي يا ښځې د يو بل په هکله غفلت او نا غيرې وکړي، د دواړو ډلو ژوند به تر تهديد لاندې وي.

لکه څرنګه چې پورته بيان شول، ښځې لومړيتوبونه او مکلفيتونه لري، همداسې بايد ووايو چې سړي هم د ښځو په مقابل کې مسؤوليتونه لري، چې د کورنۍ په چاپيريال کې دا مسؤوليتونه پورته بيان شول، په دې ځای کې به د ټولنې په سطحه ځينو هغو مسؤوليتونو ته اشاره وکړو چې رعايت يې لازم دی، او هغو ته نه پاملرنه ټولنه تهديدوي، او د افرادو د عزت ژوند له منځه وړي.

سړي بايد ښځې په لارو او کوڅو کې اذيت نکړي، نه يوازې دا چې هغوی ته به د اذيت لپاره په لارو کې نه دريږي، خبرې به نه ورته کوي، بلکې که په تصادفي توګه هم، ښځې سړويو ته په مخه ورځي نو د قرآن په حکم به هغې ته نيغ نيغ نه ګوري، او اذيت به نه ورته رسوي، الله تعالی فرمايي: ﴿قُل لِّلۡمُؤۡمِنِينَ يَغُضُّواْ مِنۡ أَبۡصَٰرِهِمۡ وَيَحۡفَظُواْ فُرُوجَهُمۡۚ ذَٰلِكَ أَزۡكَىٰ لَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا يَصۡنَعُونَ﴾ [النُّور: ٣٠]

**ژباړه:** ووايه مؤمنانو ته چې خپلې سترګې دې ښکته واچوي، او خپل شرم ځايونه دې وساتي، دا د دوی لپاره ښه د پاکۍ حالت دی، بې شکه الله تعالی په هغه څه چې دوی يې تر سره کوي، ښه خبر دی.

په مدینه منوره کې ځینې منافقان وو، چې ښځې به یې اذیت کولې، الله تعالی په سخته توګه له دې کار څخه منعه کړل، او قرآن اخطار ورکړ، چې که دا کار مو دوام وکړي، سخته جزا به درکول شي: الله تعالی فرمايي: ﴿لَّئِن لَّمْ يَنتَهِ ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْمُرْجِفُونَ فِى ٱلْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَآ إِلَّا قَلِيلًا﴾ [الأَحزَاب: ٦٠]

**ژباړه:** که منعه نه شي منافقان او هغه خلک چې په زړونو کې یې مرض دی او په مدینه کې ویره اچوونکي، نو زه به تا دوی ته وهڅووم، بیا به دوی له تا سره په دې ښار کې پاته نه شي مګر لږ وخت.

له رسول الله -صلی الله علیه وسلم - څخه روایت دی چې فرمايي: «**إياك والنظرة بعد النظرة، فإن الأولى لك والثانية عليك**». (المتقي الهندي، ۱۴۰۱هـ ق، د حديث شميره: ۱۳۰۷۲)

**ژباړه:** په نظر پسې له بل نظر نه ځان وساته، ځکه لومړی ستا لپاره دی، او دوهم ستا په خلاف دی.

له لومړي ځل کتلو نه انسان ځان نه شي ساتلی؛ ځکه ته ښځه او یا بل شی په همدې لومړي نظر کولو پیژنې؛ نو په لومړي نظر مؤاخذه نشته، خو تکراري نظر ناروا دی او مسلمانان باید له هغه نه ځان وساتي.

په لارو او کوڅو کې د ښځو تنګول، هغوی ته ځیر ځیر کتل او یا پرزې ویل، هغوی ته اذیت رسوي، او مسلمانان باید یو بل ته د اذیت سبب جوړ نه شي.

**پايلې**

د قرآن او سنتو په رڼا کې د مسلمانې ښځې د نڼيو لومړيتوبونو د پورته مطالبو خلاصه او پايله په لاندې توګه بيانوو:

- اسلام د الله تعالی له لوري راستول شوی د ژوند نظام دی چې د بشر د دواړو جهانونو د سعادت تضمين کوي.
- هر هغه نارينه او ښځينه چې د دين لاره يې سمه و پيژنده او د هغې پيروي يې وکړه په دنيا او آخرت کې به بريالی وي او که چا مخ ورځخه واړاوه په دواړو جهانونو به مخ تورن او بد مرغه وي.
- ښځې چې د بشري ټولنې نيمايي برخه تشکيلوي، د اسلام له نظره د يو کامل انسان په توګه، پوره مکلفيت او مسؤوليت لري، چې له نارينه وو سره اوږه په اوږه د اسلامی شريعت احکام وپېژني او په ځان او ټولنه يې پلي کړي.
- د اسلام مبارک دين، ښځې ته د يو بشپړ شخصيت په توګه ګوري، ټول هغه خطابونه چې سړي ورباندې ځانګړي شوي نه وي، سړويو او ښځو دواړو ته متوجه دي.
- ښځې د ځانګړي طبيعت او خلقت پر بنسټ په دندو کې له سړويو نه امتياز لري.
- ښځې د يو انسان په توګه د الله تعالی مکرم مخلوق دی، چې د نن زمانې په سياق او سباق کې ځانګړي لومړيتوبونه لري، ځينو مهمو لومړيتوبونو ته يې په لاندې توګه اشاره کوو: لومړي - علم، دوهم - د الله تعالی بندګي. دريم - د کورنۍ حقوق په ځای کول. څلورم - د ټولنې په انکشاف کې مناسبه

ونډه اخیستل. پنځم - دعوت. شپږم - د کورنۍ تحکیم او پیاوړتیا. اوم - خپل عفت او پاکي ته پاملرنه.

- سړي باید ښځې په لارو او کوڅو کې اذیت نکړي، نه یوازې دا چې هغوی ته به د اذیت لپاره په لارو کې نه دریږي، خبرې به نه ورته کوي، بلکې که په تصادفي توګه هم که ښځې سړویو ته په مخه ورځي نو د قرآن په حکم به هغوي ته نیغ نیغ نه ګوري، او اذیت به نه ورته سوي.

## مأخذونو


- قرآن کریم
- ابن اسحاق، محمد بن إسحاق بن يسار المطلبي بالولاء، المدني سيرة ابن إسحاق كتاب السير والمغازي، د سهيل زكار په تحقیق، د دار الفكر - بيروت لومړی چاپ، ۱۳۹۸هـ /۱۹۷۸.
- ابن تيمية، تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبد الله بن أبي القاسم بن محمد ابن تيمية الحراني الحنبلي الدمشقي العبودية د محمد زهير الشاويش په تحقیق، د المكتب الإسلامي - بيروت اوم چاپ، ۱٤۲٦هـ - ۲۰۰۵ کال.
- ابن حنبل، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني، مسند الإمام أحمد بن حنبل، د شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد او نورو په تحقیق، مؤسسة الرسالة لومړی چاپ ۱٤۲۱ هـ - ۲۰۰۱.
- ابن كثير، أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي، تفسير القرآن العظيم، سامي بن محمد سلامة تحقیق، طبع دار طيبة للنشر والتوزيع دوهم چاپ، ۱٤۲۰هـ - ۱۹۹۹.
- أبو داود، سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني، سنن أبي داود، د شعَيب الأرنؤوط او محَمَّد كامِل قره بللي په تحقیق، دار الرسالة العالمية، لومړی چاپ، ۱٤۳۰ هـ - ۲۰۰۹.
- البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه = صحيح البخاري، د محمد زهير بن ناصر الناصر په تحقیق، د دار طوق النجاة لومړی چاپ، ۱٤۲۲ه.

- الطحاوي، أبو جعفر أحمد بن محمد بن سلامة بن عبد الملك بن سلمة الأزدي الحجري المصري المعروف بالطحاوي شرح معاني الآثار، د محمد زهري النجار - محمد سيد جاد الحق تحقيق، د عالم الكتب لومړی چاپ - ۱٤۱٤ هـ، ۱۹۹٤.
- المتقي الهندي، علاء الدين علي بن حسام الدين ابن قاضي خان القادري الشاذلي الهندي البرهانفوري ثم المدني فالمكي، كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال، د بكري حياني - صفوة السقا تحقيق، د مؤسسة الرسالة پنځم چاپ، ۱٤۰۱هـ/۱۹۸۱.
- مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري، المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، د محمد فؤاد عبد الباقي تحقيق، دار إحياء التراث العربي - بيروت.
- منصور، محمد خالد، ( ۱۹۹۷)، الاحكام الطبية المتعلقة بالنساء، لومړی چاپ، بيروت: دار الفكر.